# زېری

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

درېنۍ (سه شنبه) د غويي ۳ - ۴مه ګڼه، پرله پسې (۴۴۳-۴۴۴) مه ګڼه، د ۱۴۰۴ال کال د غويي ۳۱مه، د ۱۴۴٦هـ.ق. کال د ذي القعدې ۲۲ مه او د ۲۰۲۵م.کال د مۍ ۲۰مه


حق مالک د دو جهان دی رب زما
هم څښتن د لا مکان دی رب زما

منت بار به د هيچا دی کله نه شي
لوی سلطان د بادشاهان دی رب زما

قاسم علي خان اپريدي


څېړندوی حمايت الله ښاد


## د "پښتونخوا" د شلمې پېړۍ
## د ادبي ـ فرهنګي بهير شننه (۲) برخه

**پښتونخوا ـ نهمه ګڼه**

د پښتونخوا نهمه ګڼه د ۱۹۹۱ز. کال په اپرېل کې راوتلې ده. پنځه دېرش (۳۵) مخونه لري. تر نهمې ګڼې د مجلې ټول مطالب په لاس کښل شوې دي، يعنې له لومړۍ تر نهمې ګڼې پورې خطاطي شوي، که څه هم خط يې ډېر ښکلی نه دی. ساده، خو ځرګند برېښي او په لوستو کې اساني او رواني لري. د دې خط ساده توب د مجلې ارزښت لوړ کړی دی. دا د خطاطۍ په اصولو نابرابر، بې قاعدې او نامنظم خط په خپل شډل بډل انداز نظرونه په ځان پسې راکاږي او سترګې خوږوي، زما په اند همدغه ساده‌والی يې د هنر کمال او جمال لا هسک او غوړولی دی.

د نهمې ګڼې پښتی په لاس کښل شوې، خو دننه ټوله محتوا يې په کمپيوټر يا د هاغه مهال د ليکلو په ځانګړي ماشين لیکل شوې ده. په دې ګڼې کې د پښتو ادب او فرهنګ په اړه ډول ډول موضوعات مطرح شوي دي او په دې لړ کې د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند تګلاره او د دې ګوند بېلابېل اړخونه او فعاليتونه هم روښانه شوي دي.

نهمه ګڼه د نورو ګڼو په څېر جالب موضوعات رانغاړي، دلته دا سرليکونه مطالعه کولی شو:

باچاخان زمونږ سياسي پلار، د درواغو مزل لنډ دی، پښتونولي، د پښتونولۍ لړونه، د پښتونولۍ فلسفي او تيوريکي بنسټ، ملي شاعر ملنګ جان، د ګودر غاړه، نوې زړې، پښتونه، د پښتنو د ټولنيز ولسوليز ګوند بنسټيزه (منشور)، پېژندګلوي، بنسټي ارزښتونه، مرکز او فعاليت، غړيتوب، جرګې، ټاکنې، ګوندي محکمه، دندې حقوق او مسؤليتونه، خپروني، بيرغ، د باچاخان جايزه، کورنی دود، په بنسټيزه کې تغير او بدلون، خوشحال خان بابا. .(۹: د ليکلړ مخ)

**پښتونخوا ـ لسمه ګڼه**

په لسمې ګڼې کې د خومره‌والي او څرنګوالی له مخې د پام وړ بدلون ليده شي، دا ګڼه د ۱۹۹۲ز. کال په مارچ کې د چاپ په کاليو سينګار شوې ده چې (۴۳) مخونه لري. د دې ګڼې ليکلړ هم تر مخکنيو ګڼو توپير لري، دلته له سرليک سره د ليکوال نوم هم ليکل شوی دی.

دا ګڼه د پوهاند محمد قاسم جمدر »افغانستان د جنګ د لمبو او سياسي حل په منځ کې «په سرليک پيل شوې ده او ورپسې د ستوري »د سمت برخې فلسفه«، د عليخان محسود »د خان عبدالولي خان شخصيت ته لنډه کتنه«، د امين کونړي »د تاريخ جبر«، د ډګروال حضرت رسول »توره څيره «او »ملاتړ«، د شيرينډل کامران ګرديوال »په ملي ادب او ادبياتو باندې د ثور د اوښتون اغېزې«، د عزيز الرحمان سرشار (خبريال) »د پښتنو د ټولنيز ولسوليز ګوند د مشر ـ د سلاکار عطا محمد شيرزي سره مرکه«، د صالح محمد زېري »د کابل د څرخي پل د جيل نه راغلی ليک«، د غني خان »پوښتنه«، د محمد شيرين ګرديوال او رحمت شاه سايل »پيغامونه«، د همايون زماني (خبريال) »نوې زړې «او ورپسې د ليکوالو د نوم پرته »د افغانستان د لانجې د سوله ييز حل نوښت «او »يادونه «سرليکونه راغلي دي. .

(۱۰ : د ليکلړ مخ)

**پښتونخوا ـ يولسمه ګڼه**

يولسمه ګڼه اته دېرش (۳۸) مخونه لري، د ۱۹۹۲ز. کال په نومبر کې خپره شوې ده. په دې ګڼې کې تر ډېره د پښتنو د ټولنيز ولسوليز ګوند منشور، تګلاره، پېژندګلوي، غړي، جرګې او د ګوند اړوند نور ډېر مسايل بيان شوي دي، پر دې سربېره د پښتنو د ملي غورځنګونو په باب هم مضمون لري، خو تر ډېره د ګوند پر


۲مخ



اکاډميسين څېړنپوه دوکتور سيد محی الدين هاشمي


## تاريخ شاهي (تاريخ سلاطين افاغنه)
## تحليلي کتنه او ارزونه (۲) برخه

**ادبي او فرهنګي- کلتوري ارزښتونه**

په دې تاريخ کې ګڼ شمېر ادبي فرهنګي ارزښتونه هم خوندي دي. ليکوال که له يو خوا د تاريخ په ليکلو کې په عام ډول ساده او روانه فصيحه او بليغه فارسي ژبه کارولې ده، نو تر څنګ يې د هغه وخت مروجه ادبي عالي انشاء، چې کله کله ډکې معنا په الفاظو کې ورکه وي، هم له پامه نه غورځوي، د بېلګې په توګه هغه چې د لودي کورنۍ بنسټګر بهلول لودي راپيژني، نو تمهيد يې داسې ړدي((راويان اخبارومنهيان اعصارکه غواصان لجه معاني اند، لالی ابدارچنان در رشته بيان کشيده، که بهلول برادر سلطان شاه لودي...)) (٦)

همدارنګه کله چې د سوري واکمنۍ بنسټګر شير شاه سوري راپيژني، نو ليکي:((راويان اخبار و واهبان آثار و اخبار سرير مرکب حامه راچنان جولان داده اند، وقتی که سلطان بهلول به حکومت هند امتياز يافت، ابراهيم سور با پسرش حسن ازرده به هندوستان آمد...)) (۷)

دغسې د عالي انشاء نورې ډېرې بېلګې يې په متن کې د پېښو او حالاتو د منظر کښنې لپاره هم ليدلی شو. د دې ترڅنګ کله کله خپل يا د نورو شاعرانو د اشعارو ځانګړې بيتونه يا قطعې او څلوريزې هم راوړي، چې دا يې د لوړ ادبي ذوق او پياوړي استعداد ښه استازولي موږ ته کولی شي. پر دې برسيره يې ځينې پښتني کلتوري او فرهنګي ارزښتونه، لکه : پښتني خويونه او عادتونه، دودونه لکه ميلمه پالنه، هېواد پالنه، ننګ غيرت او نور هم د پېښو او حالاتو د بيان په بېلا بېلو برخو کې خوندي کړي دي.

**دتاريخ ځينې نيمګړتياوې او کمزورۍ**

که د تاريخ سلاطين افاغنه (تاريخ شاهي) پورته يادې او دغسې ځينې نورې ښيګنې او غوره ځانګړنې لري، نو تر څنګ يې ځينې نيمګړتياوې او کمزورۍ هم مخې ته راځي، چې ځينو ته يې ستاسو پاملرنه را اړوم:

لومړۍ خو دا چې ليکوال پخپله دا وايي چې تاريخ يې په بنګال کې د پښتنو د ورستي واکمن ابو المظفر داؤد شاه په غوښتنه او هڅونه ليکلی دي ، حال دا چې نوموړی واکمن په ۹۸۴هـ. ق(۱۵۷٦يا ۱۵٦٦ميلادي)کال له مغولو سره په جګړه کې له ماتې وروسته بندي او بيا په شهادت رسيدلی دی. احمد يادګار خپل تاريخ د کوم نا څرګند علت له مخې (۳٦) کال وروسته (۱۰۲۰هـ .ق) کال هغه مهال چې تر ده د مخه عبدالله تاريخ داودي، چې ليکوال هغه د داؤد شاه نامه ته منسوب کړی او تر ۹۸۳هـ.ق پورې پېښې لري، ليدلي او ځينې پيښې يې کټ مټ له هغه څخه راخيستي او په موضوعي لحاظ ورسره لږ ډېر يو شان ښکاري او بل دا چې يادګار دا تاريخ داسې مهال ليکي چې د مغلو واکمني په ښه زور او شور روانه ده، د جهانګير د واکمنۍ زمانه ده، نو ځکه يې سلطنتي درباري اغېزې له امله په خپل تاريخ کې د بابر د واکمنۍ، د همايون دواړه ځلې واکمنۍ او د جلال الدين اکبر د واکمنۍ د لومړيو کلونو د مهال پېښې او حالات په ډېر تفصيل او توصيفي ډول له ډېرې مبالغې او ستاينو سره د درباري ادابو د رعايت کولو په ترڅ کې وړاندې کړي دي. احمد يادګار د يو پښتون مؤرخ په توګه پرته له دې چې د پښتنو په وړاندې د دغو مغولو واکمنو د ظلم او زور زياتي چلندونو او نادودې وغندي، په ځينو برخو کې يې ستايي او هغو ته دعادل ، منصف، غازي، جنت مکان، شاه حضرت ګيتي ستاني، عاليشان او نور داسې القاب کاروي چې د پښتنو سره د تر سره کړو ناوړو چلندونو ته په پام بايد هغه د يو پښتون مؤرخ په ژبه هېڅکله و نه کارول شي،خو احمد يادګار چې دا کار د


۲مخ



محمد ياسين اميني


## د حمزه بابا په اشعارو کې تلميح (۲)برخه

دریغه چې زلمي مو آدم خان او موسی خـــان شي
دریغه چې دا پېغلې شي درخو او ګلمکۍ (۱: ۵۵٦ مخ)

په دې بيت کې حمزه بابا تلميح د پښتو د دوو مشهورو افسانوي مينې کيسو ته اشاره ده: آدم خان او درخو او موسی خان او ګلمکۍ، دا دواړه کيسې د پښتني ټولنې د مينې او سربښندنې د افسانوي روايتونو په توګه ډېرې مشهورې دي. شاعر د دې يادونو په مرسته د خپل عصر د زلميانو او پېغلو د شخصيتونو د پاکوالي، لوړتيا او د افسانوي مينې د سپېڅلتيا هيله کوي.

آدم خان د درخو د جدايۍ له امله د زړه په تکليف اخته شو او په پای کې يې خپل ژوند له لاسه ورکړ. د هغه مړينه د پښتني افسانو د مينې د سربښندنې يوه بېلګه شوه. د موسی خان او ګلمکۍ کيسه په پښتو ادب کې د يوې خالصې خو غمجنې مينې نمايندګي کوي. (۵: ۱۱۴ مخ)

شاعر غواړي چې پښتني ځوانان د آدم خان او موسی خان په څېر سرلوړي، زړور او د خالصې مينې څښتنان شي. د دې عاشقانو يادونه د وفادارۍ، غيرت، او سربښندنې مثال په توګه شوې ده. دلته بابا دا هيله څرګندوي چې پښتني پېغلې د درخو او ګلمکۍ په څېر د سپېڅلتيا، حيا او خلوص څښتنانې شي، چې د مينې او خپل ارزښت په خاطر يې قربانۍ ورکړې دي.

حمزه بابا د دې بيت له لارې د پښتني ټولنې د اخلاقو، مينې او ارزښتونو په بيا ژوندي کولو ټينګار کوي. هغه غواړي چې د پښتنو ځوانانو او پېغلو اخلاق او جذبات د افسانوي عاشقانو په څېر پاک او سپېڅلي وي.

دا بيت د پښتو د دوو مشهورو افسانوي مينې کيسو په مرسته د زلميانو او پېغلو لپاره د شاعر يو آرمان څرګندوي. حمزه بابا غواړي چې دوی د دې افسانوي شخصيتونو په څېر د لوړ اخلاقي معيارونو او پاکې مينې مثالونه جوړ شي. د تلميح کارول د بيت ادبي ښکلا نوره هم زياتوي، ځکه چې لوستونکي د پښتو ادب له تاريخي شتمنيو سره نښلوي.

برندې سترګې مې د يار زړه ته په څېر شوې
بيا حبشو په کعبه ټړلای لام دی(۱: ۵۷۰مخ)

په دې بيت کې تلميح د حضرت بلال حبشي هغه تاريخي او مذهبي پېښې ته شوې ده، چې په اسلامي تاريخ کې ځانګړی ځای لري. دلته حمزه بابا د بلال د ژوند له يوې ځانګړې برخې سره د خپل احساساتي حالت يا د يار د ښکلا او سپېڅلتيا پرتله کوي.

تلميح د بلال حبشي او کعبې ترمنځ د هغه ځانګړي تړاو يادوي په ځانګړې توګه هغه وخت ته اشاره کېږي کله چې حضرت بلال د غلامۍ او ظلمونو باوجود په اسلام کې لوړ مقام ته ورسېد. د عبارت "بيا حبشو په کعبه ټړلای لام دی" اشاره کوي چې څنګه بلال، چې د حبشې غلام و، د اسلام په وسيله د کعبې (د سپېڅلتيا او عبادت ځای) سره تړاو وموند.

کله چې اسلام غالب شو، حضرت بلال حبشي ته ځانګړی مقام ورکړل شو او هغه د کعبې لومړنی مؤذن وټاکل شو.

د هغه مشهوره پېښه دا ده چې د فتحې مکې په ورځ، حضرت محمد ﷺ ورته امر وکړ چې د کعبې بام ته وخېژي او اذان وکړي. (۴: ۱۴۴ مخ)

په دې بيت کې تلميح د حضرت بلال حبشي هغې تاريخي واقعې ته شوې ده، چې د اسلام د سپېڅلتيا او مساوات نمايندګي کوي. بابا د دې پېښې له يادونې سره خپله مينه د سپېڅلتيا او لوړتيا په چوکاټ کې ځايوي او د يار ښکلا د بلال د قربانۍ سره پرتله کوي.

زړګی مې يو اعجـــــــاز شو د ژوندون له تعلی
وی مرګ به همدم که مسيحا ته رسېدی (۱: ۵۸۷مخ)

په دې بيت کې حمزه بابا د حضرت مسيح (عيسی عليه السلام) د معجزو تلميح ته اشاره کړې ده. دا تلميح د عيسی عليه السلام د ژوند هغه ځانګړې معجزې ته متوجه کوي چې د مړو ژوندي کول او ناروغانو ته شفا ورکول يې شامل دي. حمزه بابا په دې بيت کې د خپل روحاني يا عاطفي حالت د څرګندولو لپاره دغه مذهبي کيسه په استعاري توګه کارولې ده.

په اسلامي رواياتو کې عيسی عليه السلام د لويو معجزو څښتن ګڼل کېږي. د هغه يوه مشهوره معجزې

دا وه چې مړي يې د خدای په امر بېرته ژوندي کول. دغه معجزه د هغه د نبوت او الهي قدرت يوه څرګنده نښه ګڼل شوې ده.( ۴: ۴۵۹مخ)

په دې بيت کې شاعر د همدې معجزې يادونه کوي، چې مسيح به څنګه د مړو روح بېرته را ژوندی کړی شو. په بيت کې تلميح د عيسی پېغمبر معجزو ته ده او حمزه بابا د خپل زړۀ د روحاني حالت او د ژوند له کړاوونو څخه د خلاصون لپاره د معجزې غوښتنه کوي. د بيت ټوليز پيغام د ژوند ستونزو ته د زغم او اميد څرګندونه ده، چې د الهي مرستې او معجزې سره تړلې ده.

اشنا که په ښکـــــلا کې دې غرور دی د مغول
الفت سره وقار يې د پښتون راکړی دی (۵۸٦مخ)

په دې بيت کې د مغولانو د غرور يادونه شوې ده او که د دې تاريخي او ادبي اړخ ته وګورو، نو تلميح د مغولانو هغه ځانګړتيا


۳مخ



ليکوال: پروفيسور سيال کاکړ

ژباړن: څېړندوی بشرمل زرغون


## د سعدي د ګلستان پښتو ژباړې (۲) برخه

**﴿۳﴾ د راحت زاخېلي د ګلستان پښتو ژباړه**

سيد راحت الله راحت چې په پښتو ادبي نړۍ کې د راحت زاخېلي په نامه اوڅارتوب لري؛ د سيد فريح الله په کورنۍ کې، په ۱۳۰۴ هـ ق، د نوښار د زاخېلو په سيمه کې زېږېدلی دی او د ښاغلي زلمي هېوادمل د ليکنې پر اساس يې په ۱۳۴۲ هـ ش، له دې نړۍ سترګې پټې کړې دي، نوموړي منځوۍ زده کړې له خپل پلاره زده کړي دي، د ښاغلي همېش خليل پر وينا: ((...نوموړي صرف نحوه، عربي او طبي کتابونه لوستي وو...)).

ارواښاد راحت زاخېلی يو له لويو ليکوالو څخه شمېرل کېږي، نوموړي د پښتو ادبياتو په برخه کې ارزښتمن خدمتونه سرته رسولي دي، له دۀ نه څو کتابه د نښې په شان راپاتې دي چې يو له دغو نه د سعدي د ګلستان پښتو ژباړه ده، په دې باره کې ښاغلی همېش خليل دا ډول ليکي: ((...راحت صيب په ۱۹۲۳ ز، کې د سعدي ګلستان په پښتو ترجمه کړو...)).

حيف!! چې تر دې دمه د ارواښاد سيد راحت زاخېلي د سعدي د ګلستان دغه ژباړه نه ده چاپ شوې، دغه دنده د پښتو علمي او فرهنګي مرکزونو ده چې د سعدي د ګلستان يادې خطي نسخې پسې ډېر لټون وکړي او ډېر ژر يې د چاپ په ګاڼه وپسولي چې له دې سره يې د ورکېدو مخنيوی وشي.

پورته مو ياده کړه چې د ارواښاد زاخېلي دغه پښتو ژباړه نه ده خپره شوې چې دلته يې موږ يوه بېلګه راوړې وای، د اوس لپاره مو همدومره معلومات ترتيب کړي دي.

**﴿۴﴾ د خان عبدالصمدخان اڅکزي د ګلستان پښتو ژباړه**

که چېرې زه نه يم تېروتی؛ نو له عبدالقادرخان خټک وروسته د وطن شهيد خان عبدالصمدخان اڅکزی د پښتنو ليکوالو په منځ کې څلورم کس دی چې د سعدي د ګلستان پښتو ژباړه يې کړې ده، دغه قدرمن د نورمحمدخان زوی، د سلطان محمدخان لمسی چې په (۱۹۰۷ ز) کې د جولای په ۷ مه، د ګلستان په غېږه کې، د عنايت الله کارېز په سيمه کې زېږېدلی دی، د هېواد شهيد په زده کړو کې يې پلار ستره ونډه درلوده، حيف!! چې د نوموړي پلار په (۱۹۱۷ ز) کې له دې نړۍ وکوچېد، له دۀ وروسته د دۀ مور چې (دلبره) نومېده؛ د نوموړي پالنه پر غاړې واخيسته.

د هېواد شهيد د ګلستان په بازار په ښوونځي کې خپل نوم وليکه او خپل درسونه يې تر اتم ټولګي ورسول، له دې سره يې ديني زده کړې او پارسي درسونو ته غځېدا ورکړه، د خان عبدالصمدخان په استادانو کې هر يو: پلار يې نورمحمدخان، سيد ايوب شاه، ملا آغامحمد، ملا عبدالرحمن کاکړ، ملا شېرمحمد ساکزی او مولوي باران دي.

افسوس!! چې د سياسي اوضاع د ګډوډېدو پر اساس د خان شهيد د زده کړو لړۍ پرې شوه، له دې وروسته له خپل مشر ورور چې عبدالسلام نومېده؛ د کرنې او سوداګرۍ په کارونو بوخت شو؛ مګر دغه لوی شخصيت چې له خپل ملت او هېواد سره يې مينه درلوده؛ نو هغه مهال يې دا وليدل چې پښتانه د هېواد په هره څنډه کې د ژوند له ډګره وروسته پاتې دي او ګرګره(ظالمه) برتانيا چې ببخي يې نه غوښتل چې مسلمانان سره يو، په ځانګړي ډول په دې خاوره کې پښتانه پرمختګ وکړي او آزاد ژوند وکړي چې له همدې امله خان عبدالصمد خان اڅکزی د ژوند تر وروستيو له انګلېسيانو سره سياسي مبارزه وکړه چې له دې سره څو ځل بندخونې ته يوړل شو او له ډول- ډول کړاوونو سره


۳مخ

## تاريخ شاهي (تاريخ سلاطين افاغنه)...

هر علت او اړتیا له مخې کړې ، موږ یې د ده نیمگړتیا او د اثر کمزورتیا گڼو او په کلکه پرې د نیوکو حق لرو.(۸)

د دې تاریخ یوه بله نیمگړتیا دا هم ده چې مؤرخ د پیښو په بیان کې د نېټو ښودنې ته ډېر پام کړی نه دی، د پیښو نېټې او سنې یې ډېرې کمې راوړي او ډېره تکیه یې پر حکایتونو او روایتونو کړې او په ځینو ځایونو کې یې د پیښو او واکمنو د مړینې او له واک څخه د راپرځېدو او یا قدرت ته د رسیدو په نېټو کې هم یو یا دوه کاله او د میاشتو په توپیر لیدل کېږي.

د دې تاریخ یوه بله مهمه او د یادونې وړ نیمگړتیا دا ده چې د تاریخ په بېلا بېلو برخو کې، په ځانگړې توگه د سلطان سکندر لودي، سلطان ابراهیم لودي او اسلام شاه سوري د واکمنیو په دورو کې د ځینو خارق العاده پیښو، د ځینو روحاني وگړو د کراماتو، برکاتو او نورو حالاتو په اړه ځینې عجیبه پېښې د حکایتونو او روایتونو په بڼه بې له کوم باوري تاریخي سند، مدرک او سرچینې له یادونې څخه راوړي چې د منطق او استدال له مخې یې هم د ځینو په منلو او باور کولو کې انساني علم ټکنی او د تآمل وړ حالت غوره کوي، خو دا نه ده معلومه چې لیکوال دا په شعوري ډول په خپل تاریخ کې د ځانگړې خوند رنگ د پیدا کولو لپاره کړې او که یې د خپلې بشري پوهې او مذهبي گروهې له مخې هغه د خپل تاریخ برخه گرځولې او یایې له نورو تاریخي آثارو، لیکلو او ژباړلو افکارو څخه په نافهمی سره را نقل کړې دي. هر څه چې وي دې کار د اثر تاریخیت او علمي، فرهنگی ارزښت یې را ټیټ او پیکه کړی دی.(۹)

**پایله**

که د دې تاریخ د پېژندنې په اړه دا خواره واره بحثونه او څرگندونې راټولې کړو، نو د پایلې په توگه ویلی شو چې:

په هندوستان کې د پښتنې واکمنیو د لړیو (لودیانو او سوریانو) په باب دا لومړنی اثر دی چې یو پښتون لیکوال په ۱۰۲۰ هـ ق کال لیکلی او په هغه کې د لودیانو او سوریانو په هکله مستند معلومات وړاندې کړي، د منځپانگې او محتوا ټولنیز او تاریخي ارزښت یې په دې کې دې چې د دواړو واکمنیو د عروج او بیا له منځه تللو عوامل په ډاگه کوي. سربیره پردې ادبي، فرهنگي او کلتوري ارزښتونه هم لري او هغه دا چې مسایل په ډېره روانه او عام فهمه ژبه بیانوي، ځای په ځای پکې له عالي انشاء او شعري بېلگو نه هم کار اخلي، پښتنې خویونه، عادتونه او دودونه لکه میلمه پالنه، هیواد پالنه، ننگ، غیرت او نور هم پکې ښکاره څرگندوي، خو په دې ټولو ښېگڼو سربېره د اثر ځینې نیمگړتیاوې او کمزوتیاوې هم راڅرگندیږي او هغه دا چې مؤرخ درباري تشریفات په کلکه رعایت کوي او کله چې د مغولو واکمنانو ستاینو ته راځي، نو د مبالغې تر حده یې ستایي او هماغه زورواکي مغولي واکمنانو ته د عادل، عالي شان، او جناب عالي او... خطاب کوي.

له دې ټولو سره د دوو سترو واکمنو لړیو (لودیانو او سوریانو) د واکمنیو او د وخت د حالاتو او پیښو د پېژندلو او خبرېدو په برخه کې یې موږ داسې مغتنم او گټور اثر گټلی شو، چې هغه له موږ سره د دغو مهالونو د پښتنو د تاریخ د ځینو تیاره گوټونو په روښانه کولو کې لازمه او مناسبه مرسته کولی شي.

**مأخذونه**

۱- یادگار، احمد- شاهي تاريخ یا تاريخ سلاطين افاغنه، ژباړن: محمد الله ساپی، د افغانستان د علومو اکاډمی: کابل، ۱۴۰۲ل، ۲مخ.
۲-یادگار، احمد- تاريخ شاهی، چاپ زیار: د محمد هدایت حسین، دویم چاپ، ایران: تهران، ۱۳۹۰ل، ۲-۱ مخونه.
۳-یادگار، احمد- تاريخ شاهی، مترجم: سید نذیر نیازی، اردو ساینس بورډ: لاهور، ۱۹۸۵م، ن مخ.
۴-خټک، افضل خان- تاریخ مرصع، حواشي: دوست محمد کامل مومند، یونیورسټی بک ایجنسي: پېښور، ۲۰۰٦م، و-ی مخونه.
۵-یادگار، احمد- شاهي تاريخ یا تاريخ سلاطين افاغنه، ژباړن: محمد الله ساپی، د افغانستان د علومو اکاډمی: کابل، ۱۴۰۲ل، ۷ مخ.
٦-یادگار، احمد- تاريخ شاهی، چاپ زیار: د محمد هدایت حسین، دویم چاپ، ایران: تهران، ۱۳۹۰ل، ۲ مخ
۷- پورتنی اثر، ۱۷۳-۱۷۲مخونه.
۸-یادگار، احمد- شاهي تاريخ یا تاريخ سلاطين افاغنه، ژباړن: محمد الله ساپی، د افغانستان د علومو اکاډمی: کابل، ۱۴۰۲ل، ۱۰-۹ مخونه.
۹- پورتنی اثر، ۱۰ مخ.

## د "پښتونخوا" د شلمې پېړۍ ...

جوړښت او بېلابېلو برخو خبرې لري.

د پښتونخوا یولسمه گڼه د ارواښاد ډاکتر کبیر ستوري «د پښتنو ملي غورځنگونه» په سرلیک پیلېږي او وروپسې د دې مجلې د خپرونکي گوند په اړه معلومات وړاندې شوي دي، چې دا سرلیکونه لري:

د پښتنو د ټولنیز اولسولیز گوند بنسټیزه (منشور)، پېژندگلوي، بنسټي ارزښتونه، مرکز او فعالیت، غړیتوب، جرگې، ټاکنې، گوندي محکمه، دندې، حقوق او مسؤلیتونه، خپرونې، بیرغ، د باچاخان جایزه. .(۱۱: د لیکلړ مخ)

که څه هم د دې مجلې مخونه د ښاغلي نصیر ستوري د وینا پر بنسټ (۳۸) ښوول شوي، خو د لیکلړ د لومړي مخ وروستی سرلیک یې له نهمې شمېرې څخه پیلېږي، ښایي په بل مخ د لیکلړ سرلیکونه هم راغلي وي، خو د دې لیکلړ له مخې د مجلې کمیت تر اته دېرش مخونو پورې اټکلېدای نه شي.

**پښتونخوا ـ دولسمه گڼه**

دولسمه گڼه په (۳۹) مخونو کې د ۱۹۹۳ز. کال په اگست کې چاپ شوې ده. دا گڼه په ادبي او ذوقي موضوعات ډېره ښکلې شوې ده، ټولنیز حالات او موضوعات هم رانغاړي، د ژبپوهنې په اړه هم مضمون لري او تاریخي او سیاسي لیکنې په کې هم موندل کېږي.

د پښتونخوا دولسمه گڼه د هدایت بنگښ د «پښتنه ټولنیزه اولسولي «په سرلیک پیلېږي او وریسې، «خبرتیا«، د علي خان محسود «د تاریخ یوه پاڼه«، «ادبي محفل«، د لطیف اپریدي «غزل«، د محمداجان یار «لمبې«، د نسیم په غږ «پاڅېږه پښتونه«، د مبارز ساپي «مناجات«، د عزیز سرشار «د پلار او زوی مرکه«، د خبریال محمد حسن نور «نوې زېږې«، د ناصریار «د حرم د باغ گلونه«، د ډاکترکبیر ستوري «د ژبې څهرې او بنې«، د عطاء محمد شیرزي «همدا اوس هم په افغانستان کښې د روسانو طرح شوي پلان ته کار کېږي«، د مجلې «خبرتیا«، د غلام نبي سخي «پښتانه د ښکېلاک په وړاندې«، د محمدشیرین گردیوال «هر څوک دې خپلې دندې سپېځلې وگڼي «او د ایمل خان میردادخېل «علم او قلم «سرلیکونه راغلي دي. .(۱۲: د لیکلړ مخ)

د مجلې سرلیکونه جوتوي چې له تاریخي، سیاسي، اجتماعي او فرهنگي لیکنو ورهاخوا په ژبې او ادب پورې تړلي موضوعات، هنري او ژبنی لیکنې هم لري.

**پښتونخوا ـ ځانگړې گڼه**

د پښتونخوا د خپرونو په لړ کې دا ځانگړې گڼه ده چې د «پښتنو د یووالي ورځ» په نامه خاص راوتلې ده. د پښتنو د یووالي د ورځې په ویاړ دا خاص خپرونه د ۱۹۹۳ز. کال په نومبر کې چاپ شوې ده چې (۵۱) مخونه لري.

د پښتنو د یووالي دا خاص خپرونه د ټولو پښتنو د اتحاد او اتفاق پېغام لري، په ځانگړې توگه د لر او بر پښتنو ترمنځ یووالی غواړي او د دوی تر منځ د پردیو په لمسون د ککړې، نفاق، بېلتون او پردیتوب کرښه او زنځیر نه مني. په دې خپرونه کې تر ډېره د پښتنو د ټاټوبي په اړه تاریخي موضوعات ځای شوي دي او د پښتنو د پیوستون او لیرېوالي لاملونه په کې په گوته شوي دي.

دا گڼه د ډاکترکبیر ستوري په سریزه پیل شوې او وریسې د بېلابېلو لیکوالو دا لیکنې راغلې دي:

د مبارز ساپي «مقدس بغاوت«، د نیسم ستوري «د احمدشاه بابا د مرک نه تر اول افغاني جنگ پورې«، د محب الله رؤفي «پښتونخوا«، د علي خان مسحود «فارورد پالیسي او دوهم افغاني جنگ«، د ډاکتر حضرت رسول «په افغانستان باندې د انگرېزانو پوځي تېری«، د محمداجان یار «د تاریخ پاڼه«، د محب الله رؤفي «کوز او بر پښتانه «او د محمد شیرین گردیوال «د ډیورند کرښه او امیر عبدالرحمن خان «لیکنې راغلې دي .(۱۳: د لیکلړ مخ)

**پښتونخوا ـ دیارلسمه گڼه**

دیارلسمه گڼه په (۲۷) مخونه لري او د ۱۹۹۴ز. کال په اگست کې چاپ او خپره شوې ده. دا گڼه په لاندې مطالبونو ښکلې شوې ده:

د پښتنو د یووالي د ورځې په ویاړ د م- شیرین گردیوال د وینا ژباړه، د اسدالله بختیار «مېړنی ولس«، د عمر محمد عثمان «ډیموکراسي او زموږ هېواد«،د هدایت الله بنگښ «نوې زړې«، د دکتور درویزه اڅکزي «مشر او لاربښود«، د ډاکتر ستوري «پخوانی مینه«، د عزیز سرشار «د مینې رقیب ته«، د محمداجان یار «غزل«، د ډگروال غلام قادر یار «ولس وژنه که ولس پالنه«، د عبدالنصیر ستوري «د پښتنو یووالی د دښمن ماتی«، او «د پښتني تاریخ ویاړ« یې وروستی سرلیک دی. .(۱۴: د لیکلړ مخ)

**پښتونخوا ـ څوارلسمه گڼه**

دا گڼه هم له تېرې گڼې دوې میاشتې وروسته د ۱۹۹۴ز. کال په اکتوبر کې چاپ شوې ده. (۲۷) مخونه لري. یعنې «پښتونخوا «په دې کال کې دوې گڼې خپرې شوې ده. دا گڼه د پښتنو د یووالي، روغې جوړې او عامې ټولنیزې خبرې لري، تاریخي او حقوقي مسایلو ته هم سر ورښکاره کوي او یوه نیمه ادبي لیکنه هم رانغاړي.

د پښتنو د یووالي ورځې په اړه د پښتنو د ټولنیز ولسولیز گوند د مشر ډاکتر ستوري په وینا پیل شوې ده او ورپسې د بېلابېلو لیکوالو لاندې لیکنې او ویناوې راغلې دي:

رفیع الله قاضي خېل «لویې جرگې لویې چارې، جرگه او روغه جوړه«، علیخان محسود «د ډیورنډ د کرښې په مناسبت وینا«، عزیز سرشار «نوې زړې«، مېرمن عایشه زماني ساقي «د افغاني ښځو ژوند په اوسني افغانستان کښې«، صلاح الدین قاضي خېل «څه وشول او څه پکار دي«، احمدشاه امین «د افغانستان حالات او د بشر حقوق«، کبرا مظهري «مه کوه «او د «خبرتیا «په سرلیک پای ته رسېږي. .(۱۵: د لیکلړ مخ)

**پښتونخوا ـ پنځلسمه گڼه**

دا گڼه (۳٦) مخونه لري او د ۱۹۹۵ز. کال په جون کې راوتلې ده. دا د تېرې گڼې په څېر د پښتنو د یووالي ورځې په اړه د ډاکتر کبیرستوري په وینا پیل شوې ده. د پښتنو د یووالي ورځ په ویاړ «پښتونخوا «خاص گڼه هم خپره شوې ده، چې په پورته کرښو کې له منځپانگې سره معرفي شوې ده. هلته د توقع خلاف د پښتنو د یووالي د ورځې په مناسبت لیکنې نه لري، خو د «پښتونخوا « راوروسته گڼې د پښتنو د یووالي په باب لیکنې او ویناوې لري.

دا گڼه له سیاسي، تاریخي او فرهنگي مسایلو سره سره ښکلي ادبي او هنري موضوعات هم لري. د لیکوال له نوم سره یې سرلیکونه دا دي:

د عزیز سرشار «د مودو ارزو«، د محمد افغان اباسین «قومیت او ملیت«، د اجمل خټک «تخیل کې حقیقت«، د انجنیر محمد حنیف ساپي «د پښتونخوا په دننه او بهر کښې د پښتنو د ټولنیز ولسولیز گوند ټولو غړو ته افغانستان د تاریخ په اوړدو کښې«، د تازه گل «شعر«، د عزیز سرشار ـ خبریال «نوې زړې«، د مېرمن شهلا یار «افغانستان د اور په لمبو کښې، د کبیر ستوري «د پښتو لار «او د لیکوالو له نوموړو پرته «راسره وژړل «او «د تاریخ ننگیالي« سرلیکونه راغلي دي. .(۱٦: د لیکلړ مخ)

**پښتونخوا ـ شپاړسمه گڼه**

د ۱۹۹۵ز. کال دا دویمه گڼه ده چې په اگست کې چاپ شوې ده او (۳۲) مخونه لري. په دې گڼې کې اجتماعي او تاریخي موضوعات راغلي دي.

شپاړسمه گڼه د ن. سالارزي «آیا د ډیورنډ د تړل شوې کرښې په هکله ترون قانوني مشروعیت لري؟« په سرلیک پیل شوې ده او وریسې د محمد افغان اباسین «حقوقي موازنه«، «د پښتنو د ټولنیز ولسولیز گوند بسنټیزه (منشور)، د سرڅارمن محمداکبر خروټي «ترکانې د بیزو کار نه دی«، د ډاکتر کبیر ستوري «ارمان«، په کراچۍ کې د اولسي ښېگڼې غونډې ته د پخواني چېرمین ښاغلي نصرالله خان وینا، د احمد شاه امین ـ خبریال «نوې زړې«، «کتابونه«، د محمد اجان یار «غزل«، د ډاکترمحمد جاوید وردگ «د پښتو نکل او ناري» او د ډگروال احمد جان «د زمانې ننگیالي «سرلیک راغلی دی. .(۱۷: د لیکلړ مخ)

د پښتونخوا په زیاترو گڼو کې تر ډېره املایي او انشایي نیمگړتیاوې نه لیدل کېږي، خو یوه نیمه کلمه یې د اوسني لیکدود له مخې توپیر لري او یاگانې (ی) په کې هم مراعت شوې نه دي.

**پښتونخوا ـ اولسمه گڼه**

د پښتونخوا اولسمه گڼه اته ویشت (۲۸) مخونه لري او په ۱۹۹٦ز. کې چاپ شوې ده، خو میاشت په کې کښل شوې نه ده. دا گڼه هم سیاسي، تاریخي او ادبي مسایل او موضوعات په خپله سینه کې خوندي کوي؛ خو د ادبي موضوعاتو لمن یې پراخه ده. پیل یې د پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ له تاریخي لیکنې شوی دی چې «امیر عبدالرحمان خان او د ډیورنډ ترون «یې سرلیک دی. تر دې وروسته د لاندې شاعرانو او لیکوالو لیکنې، کلامونه او د زړه خوالې لکه د مرغلرو امېل یو په بل پسې پېیل شوي دي.

د ډاکتر الف کاسي خېل (کاناډا) «یووالی ـ شعر«، د محمد افغان اباسین «قومیت او ملت... پاتې برخه«، د خوشحال انځور «د وطن ارمان ـ شعر«، د عبدالنصیر ستوري ـ خبریال «نوې زړې «او د «ویر «په سرلیک د ببرک رفیق شعر د دې گڼې ټول موضوعات دي.(۱۸: د لیکلړ مخ)

**پښتونخوا ـ اتلسمه گڼه**

دا گڼه په ۱۹۹۷ز. کې له چاپه راوتې ده او دوه دېرش ( ۳۲) مخونه لري. د دې گڼې له کال سره میاشت هم ذکر شوې نه ده. په دې گڼې کې د پښتو ژبې او ادب په تړاو د لیکنو تله درنه ده او د پښتو ادب منظوم او منثور کلامونه او کالمونه لري، خو ټولنیز موضوعات په کې هم ځای شوي دي.

په دې گڼه کې د لیکوالو له نومونو سره دا موضوعات خوندي دي:

د مېرمن ماه گل سلیمان دوست «پښتو ژبې د گرامر په برخه کې څېړنې او اثار«، د خان محمد مبارز ځاپي شعر «چې پښتانه مو پښتانه پاتې شي«، د عزیز سرشار ـ خبریال «د پښتنو د ټولنیز ولسولیز گوند د مشر سره د پښتونخوا د خبریال مرکه«، د عصمت الله روحاني د «شهید «شعر، د عزیز سرشار ـ خبریال «نوې زړې«، د گل غوټۍ کونړۍ «مخ پټونی» او د «پښتون قامي وحدت» په نامه وروستی سرلیک راغلی دی.(۱۹: د لیکلړ مخ)

**پښتونخوا ـ نولسمه گڼه**

نولسمه گڼه په ۱۹۹۸ز. کې د چاپ په گاڼه پسولل شوې. دوه دېرش (۳۲) مخونه لري. دا گڼه د پښتنو د ټولنیز ولسولیز گوند پر فعالیتونو خپل لومړي مخونه ښکلي کوي، د پښتنو د یووالي په اړه د مشرانو ویناوې هم لري، د ادبي ذوق څښتنانو ته د پښتو ژبې د اوځارو شاعرانو شعرونه هم مخې ته ږدي، د دوی د غونډو گزارشونه او نور ټولنیز موضوعات یې هم خپله غېږه کې ځای کړي.

دا گڼه لاندې سرلیکونه لري:

د پښتنو د ټولنیز ولسولیز گوند د پښتنو د یووالي ورځ د جرمني د کولن په ښار کې ونمانځله. د پښتنو د یووالي د ورځې په مناسبت د پښتونخوا د قومي پارټۍ مشر ښاغلي محمد افضل خان (خان لالا) وینا. د اجمل خټک (شعر)، د محمد اجان یار «غزل«، د ملنگ جان مومند «باچاخان«، عبدالنصیر ستوری ـ خبریال «کتابونه«، عبدالقهار «شعر«، عزیز سرشار ـ خبریال «نوې زړې«، استاد رښاگل اریوبزی «د پښتني کلتور ملغلرې«، ډاکتر ماخان شینواری «پښتونولي«، مبارز ځاپی «درناوی «او ډاکتر کبیر ستوري «پښتونخوا). .«۲۰: د لیکلړ مخ)

**پښتونخوا ـ شلمه گڼه**

د شلمې پېړۍ وروستی گڼه همدا شلمه ده. د دې پېړۍ وروستی گڼه په ۱۹۹۹ز. کې چاپ او خپره شوې ده. دا گڼه شپږ دېرش (۳٦) مخونه لري چې ډېر خواږه فرهنگي موضوعات په کې راغلي دي. د دې گڼې غوښنه برخه د پښتو ژبې او ادب پر موضوعاتو څرخي. ټولنیز بحثونه هم لري، خو په ټوله کې پر بېلابېلو فرهنگي موضوعاتو علمي او ادبي لیکنې لري.

د شلمې گڼې مطالب د ډاکتر رحمت ربي ځیرکیار د «باچاخان په جهان کښې... «له سرلیک څخه پیلېږي او وریسې د مبارز ځاپي «د روم غونډه که د...«، د ډاکتر علي احمد پوپل سره مرکه «د رحمان بابا او...«، د گل غوټۍ کونړۍ «پښتانه د پېښلیک...«، د دارلمنان یوسفزي «پښتو ژبه«، د عمر پاځون شعر «پښتانه«، د ارباب بهار احمدبهار شعر «کابله«، د نسیم خان «د غني خان په یاد«، د استاد رښاگل اریوبزي «د پښتني کلتور مرغلرې...«، لیکوال له نوم پرته «د خوشحال خان خټک د زوکړې...«، د سنگر «شعر«، د محمدافضل خان «د پښتنو / افغانانو نمائنده جرگه«، د ملنگ جان «زما ځواني ډول کوي ـ شعر «او د «پریس ریلیز «په وروستي سرلیک دا مجله پای مومي.(۲۱: د لیکلړ مخ)

**پایله**

پښتونخوا په جرمني کې د پښتنو د ټولنیز ولسولیز گوند مجله ده. دغو المان مېشتو پښتنو د خپل گوندي او ورسره د پښتني ایډیا او تیورۍ د خپرولو لپاره پښتونخوا مجله راوویسته. سره له دې چې د «پښتونخوا «بنسټگره اداره یو گوند دی او ښایي د گوند له لامله د سیاسي موخو د خپرېدو پړه ورپورې وتړل شي، یا په گوندي مسایلو پورې تړلې وبلل شي، خو د گوند نوم یې څرگندوي چې ولسي او اجتماعي مسایل رانغاړي او مجله یې د پښتو ژبې، ادب او فرهنگ په خدمت کې ده. د دې مجلې له مطالبو او موضوعاتو جوتېږي چې پښتونخوا مجلې له خپلو سیاسي ـ اجتماعي موخو سره په څنگ کې تر وسې وسې د پښتني فرهنگ او پښتو ادب د ودې او پراختیا بار ته هم اوږه ورکړې ده.

په غرب کې د پښتو او پښتون پالنې دا مجله د شلمې پېړۍ په اتمه لسیزه کې خپل لومړی گام پورته کوي، په پیلنۍ گڼه کې د المان مېشتو پښتنو د اجتماعي او فرهنگي هڅو انځور کاږي او تر ډېره ادبي او ټولنیز موضوعات هم رانغاړي. پښتونخوا خپله لومړۍ گڼه پر پښتو سربېره په الماني او انگلیسي مطالبو هم پسوللې ده، خو راوروسته گڼې یې له یوې نیمې الماني او انگرېزي لیکنې پرته ټول په پښتو کښل شوې دي.

دا مجله د گڼې د پر له پسې شمېر له مخې په شلمه پېړۍ کې شل گڼې چاپ شوې ده، خو په دې لړ کې د پښتنو د یووالي ورځې په یاړ یوه ځانگړې گڼه هم لري چې د شلمې زېږدې پېړۍ ټولټال شمېر یې یوویشت گڼې کېږي. دا مجله له لومړۍ تر نهمې گڼې په لاس لیکل شوې، یعنې دا گڼې تر خطاطۍ وروسته چاپ او خپرې شوې دي. د راوروسته گڼو ټولې پښتنې خطاطي شوي، دننې موضوعات یې ټایپ شوي، خو په دې لړ کې یې ځینې گڼې د نسخ په ښکلي خط هم سینگار شوې دي. د چاپ او خپراوي له مخې دا مجله په پرله پسې ډول په خپل ټاکلي وخت چاپ شوې نه ده، یعنې په چاپ کې یې ځنډوالی لیدل کېږي، خو په کال کې هرومرو یوه گڼه د چاپ په گاڼه سمبال شوې ده.

په شلمې پېړۍ کې د پښتونخوا ټولې گڼې د پښتو ژبې، ادب، فوکلور او فرهنگ په اړه غني مواد او معلومات لري، د پښتو ژبې د اوځارو لیکوالو ادبي، علمي او ذوقي لیکنې په کې خپرې شوې دي. د دې مجلې په نږدې هره گڼه کې د نوې زړې سرلیک راغلی دی، په پښتونخوا کې تر دې عنوان لاندې د المان مېشتو پښتنو د فرهنگي ـ ادبي ناستو، غونډو او باندارونو گزارشونه دي، چې په بهر کې د پښتنو د فرهنگي او ادبي هلو ځلو او فعالیتونو زباد ترې ښه ترا جوتېدای شي. پر دې سرلیک سربېره په نورو بېلابېلو لیکنو کې د المان پښتني فرهنگي اوضاع ځای ځای څرگنده شوې ده.

دا مجله په ټوله کې په پښتو ژبه په پښتو او پښتنو پورې تړلې بېلابېل مسایل او موضوعات لري او د خپلې ټولنې سیاسي، تاریخي، اجتماعي، ادبي او فرهنگي مطالب په خوږه پښتو ژبه وړاندې کوي. «پښتونخوا «

۳مخ

## د سعدي د گلستان پښتو ...

مخ شو؛ مگر بیا هم دغه مبارز شخص د ژوند تر شهادت شېبې پورې له خپلې سیاسي مبارزې نه لاس وانخیست، د حیرانتیا خبره خو دا ده چې په بندخونه کې یې هم خپلو زده کړو ته غځونه ورکړه او په تورو بندو خونو کې یې د پښتو- پارسي د فاضل شهادتلیک لاسته راوړ او د تورو تنبو په دې اوږدو کې له لسم او دولسم (Matric, F. A) څخه هم برخمن شو.

پته دې پاتې نه وي چې خان عبدالصمدخان اڅکزی یو له هوښیارو او پوهو لیکوالو څخه وه، څو ژبې یې زده وې، پښتو یې مورنۍ ژبه وه چې په همدې اساس نوموړي په پارسي، انگلیسي، اردو، سندي او بلوچي ژبو ښې خبرې کولې، دۀ د نړۍ هره ژبه ښه گڼله؛ مگر د هېواد شهید ټولې لیکنې په پښتو دي، دی د مورنۍ ژبې پلوی و، خپلې غوښتنې (عواطف) یې همېشه په پښتو ښکاره کولې، هیله یې درلوده چې لرغونې پښتو د ژباړې له لارې مړه(غني) کړي، په دې لاره کې نوموړی په خوښۍ برلاسی شو چې په همدې اساس یې له پارسي او اردو ژبو نه د سعدي گلستان، د حجت الاسلام حضرت امام غزالي کیمیای سعادت، د اروابناد شبلي نعماني سیرةالنبي ړومبی ټوک او د اروابناد مولٰینا ابوکلام آزاد ترجمان القرآن په پښتو ژباړلي دي.

هو!! اروابناد اڅکزي د حافظ او سعدي له ژبې سره رښتینې مینه درلوده، نوموړي د پارسي کتابونه لکه: پنج کتاب، گلستان او بوستان په خپلو سیمه ییزو ماجتونو(مسجدونو) کې له دیني استادانو لوستي وو، ورپسې یې په ځوانۍ کې پارسي ژبه یاده کړې وه او د دغې خوږې ژبې د اړوندو منلو شاعرانو په اړه یې ډېر زیات معلومات تر لاسه کړي وو، رښتیا دا ده چې د شلمې پېړۍ په لومړیو کې پارسي ژبې د لوست په برخه کې خپل دیني، اخلاقي او ټولنیز ارزښت له لاسه نه و ورکړی، همدا لامل دی چې د خان شهید په ژوند کې پارسي ژبې ډېر اهمیت لارۀ، په ځانگړې توگه د گلستان اخلاقي ارزښت یې په ښه ډول پېژندلی وه او د دغه حکیمانه کتاب پښتو ژباړه یې د افغاني ټولنې لپاره اړینه وبلله چې د پښتنو روزنه د سعدي د گلستان په رڼا کې تر سره شي چې د سعدي د گلستان په ژباړه کې تر ډېره بریالی شوی هم دی.

د سعدي د گلستان خطي نسخه(مسوده) تر دې دمه د چاپ په گاڼه نه ده پسولل شوې؛ مگر د هېواد شهید یو زوی ډېر قدرمن ښاغلی محمودخان اڅکزی په دې هڅه کې دی چې ډېر ژر د خپل ستر او پوه پلار دغه یاد اثر چاپ کړي، هیله من یو چې په راتلونکو کلونو کې د سعدي د گلستان دغه ژباړه زموږ تر لاسونو راورسېږي، ان شاءالله.

ما د خپل ادبي یون چې د خان شهید کور د عنایت الله کاریز په سیمه کې دی؛ په ترځ کې د سعدي د گلستان د ژباړې آره نسخه(مسوده) په خپلو سترگو ولیده او له هغې خطي نسخې مې د (پښتانه لیکوال، دویم ټوک) تذکرې لپاره ځینې یادښتونه واخیستل، د معلوماتو پر اساس د سعدي د گلستان دغه ژباړه خان عبدالصمدخان اڅکزي په درېو دفترونو کې په خپلو مبارکو لاسونو کښلې وه، د (چ) ړومبی دفتر ۱۸۳ پاڼې، د (چ) دویم دفتر ۱۴۹ پاڼې او د (چ) درېیم دفتر ټولې ۱۴۰ پاڼې درلودې.

خان شهید د سعدي د گلستان ژباړه په ډېرې ښکلې طریقې کړې ده، نوموړي د سعدي نثر په پښتو نثر او شعرونه یې په پښتو نظم اوډلي دي، زه د سعدي د گلستان دغې ژباړې په اړوند ډېر ټینگ یقین لرم چې خان شهید د سعدي د گلستان په یاده ژباړه کې د پښتو له سوچه گړنې او ځانگړنو څخه گټه اخیستې ده چې په همدې اساس ژباړه یې ډېره زیاته سوچه، روانه او ساده ده او گران لوستونکي خپل لوري ته ډېر ژر راکاږي.

حیف!! دمگړی زه د سعدي د گلستان د یادې ژباړې خطي نسخه په واک کې نه لرم چې له هغې نه د خان شهید د نثر بېلگه ستاسې خدمت ته وړاندې کړم، ما په دې تړاو له ډاکتر حامدخان اڅکزي سره څو ځل اړیکه ټینگه کړه؛ مگر بریالی نه شوم، افسوس!! د ملت شهید یاد بچي او یاد ډاکتر په دې باره کې له ما سره په دغه علمي او څېړنیز کار کې هېڅ ډول مرسته نه ده کړې.

اوس په یقیني ډول نه شو ویلای چې اروابناد اڅکزي د سعدي د گلستان ژباړه په بشپړ ډول په پښتو کړې؛ که یه؟ موږ ټول د دې ژباړې په تمه یو، دلته باید یوه یادونه وشي چې خان شهید د سعدي د گلستان په دغې ژباړې نوم نه و ایښی، اوس به گورو چې په گانده(آینده) کې یاده ژباړه په څه نامه خپرېږي؟.

خان عبدالصمدخان اڅکزی اخر په ۱۹۷۳ ز، د ډسامبر په ۲ مه، د کوېټې په ښار، د سید جمال الدین افغاني سړک ته نږدې، په خپل کور کې یوه شپه په خواږه خوب ویده و چې د ځینو گرگرو (ظالمو) میرڅمنو له لاسه د بمي چاودنې په اساس شهید شو او بیا دغه لوی سیاستوال او د پښتو غوره لیکوال له دې نړۍ سترگې پټې کړې او د عنایت الله کاریز د مړستون په خاورو کې ښخ شو، انا لله و انا الیه راجعون، روح دې ښاد وي.

### مأخذونه


۱: خټک، عبدالقادر خان. گلدسته، پښتو اکاډمي پېښور پوهنتون: پېښور، درېیم چاپ، ۱۹۸۹م.
۲: حبیبي، عبدالحی. پښتانه شعراء (لومړی ټوک)، پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۲۰ل.
۳: سعدي شیرازي. د سعدي گلستان، جرس خپرندویه ټولنه: تهران، ۱۳۷۹ل.
۴: کاکړ سیال. د کسي د لمنې پښتانه لیکوال (دویم ټوک)، بولان بُک کارپورېشن: کوټه، ۱۹۸۳م.
۵: رښتین، صدیق الله. د پښتو ادب تاریخ، پښتو ټولنه: کابل،۱۳۲۵ل.
٦: خلیل، همېش. پښتانه لیکوال، پخپله لیکوال: پېښور، ۱۹۵۸م.
۷: هېوادمل، زلمی. فرهنگ زبان و ادبیات پښتو (اول ټوک)، د ښوونې او روزنې وزارت: کابل، ۱۹۷۷ ز.


## د "پښتونخوا" د شلمې پېړۍ ...

د لوېدیځ او په تېره د المان مېشتو پښتنو لیکوالو او شاعرانو د فکر او فن د خپرولو، خونديکولو او د پښتو ژبې او ادب د غځولو، ودې، پراختیا او پرمختیا لپاره په بهر او په تېره په جرمني کې د شلمې پېړۍ غوره وسیله او فرهنگي ذخیره بللی شو.

### مأخذونه


۱. ستوری، نصیر. په جرمني کې د پښتنو د ټولنیز ولسولیز گوند غږی، ۵۵ کلن، لېسانس، (په جرمني کې د پښتنو فرهنگي ـ ادبي هلو ځلو څېړل)، حمایت الله ښاد، جرمني، انلاین مرکه، ۱۴۰۳/۳/۴)
۲. پښتونخوا ـ مجله، لومړۍ گڼه، ۱۹۸۷م.
۳. پښتونخوا ـ مجله، دویمه گڼه، ۱۹۸۸م.
۴. پښتونخوا ـ مجله، درېیمه گڼه، ۱۹۸۸م.
۵. پښتونخوا ـ مجله، څلورمه گڼه، ۱۹۸۹م.
٦. پښتونخوا ـ مجله، پنځمه گڼه، درېیم ټوک، ۱۹۸۹م.
۷. پښتونخوا ـ مجله، شپږمه گڼه، درېیم ټوک، ۱۹۸۹م.
۸. پښتونخوا ـ مجله، اوومه گڼه، ۱۹۹۰م.
۹. پښتونخوا ـ مجله، اتمه گڼه، ۱۹۹۰م.
۱۰. پښتونخوا ـ مجله، پنځم ټوک، نهمه گڼه، ۱۹۹۱م.
۱۱. پښتونخوا ـ مجله، شپږم ټوک، لسمه گڼه، ۱۹۹۲م.
۱۲. پښتونخوا ـ مجله، شپږم ټوک، یولسمه گڼه، ۱۹۹۲م.
۱۳. پښتونخوا ـ مجله، اووم کال، دولسمه گڼه، ۱۹۹۳م.
۱۴. پښتونخوا ـ مجله، د پښتنو د یووالي د ورځې په ویاړ ځانگړې گڼه، ۱۹۹۳م.
۱۵. پښتونخوا ـ مجله، اتم کال، څوارلسمه گڼه، ۱۹۹۴م.
۱٦. پښتونخوا ـ مجله، نهم کال، پنځلسمه گڼه، ۱۹۹۵م.
۱۷. پښتونخوا ـ مجله، نهم کال، شپاړسمه گڼه، ۱۹۹۵م.
۱۸. پښتونخوا ـ مجله، لسم کال، ۱۷مه گڼه، ۱۹۹٦م.
۱۹. پښتونخوا ـ مجله، یوولسم کال، اتلسمه گڼه، ۱۹۹۷م.
۲۰. پښتونخوا ـ مجله، دولسم کال، نولسمه گڼه، ۱۹۹۸م.
۲۱. پښتونخوا ـ مجله، دیارلسم کال، شلمه گڼه، ۱۹۹۹م.


## د حمزه بابا په اشعارو کې...

ته شوې چې هغوی د ښکلا، ځواک، او غرور سمبول گڼل کېدل.

په یـــــــاد بیت کې (غرور د مغول) د هغو تاریخي ځانگړتیاوو یا پېښو یادونه کوي چې مغولان د ښکلا، ځواک او ځواکمنۍ لپاره پېژندل کېدل.

مغولان، په ځانگړي ډول د هغوی درباري اشراف او شهزادگان، د ښکلي ظاهري بڼې لپاره مشهور وو، په ادبیاتو کې د هغوی ښکلا د غرور او لوړتیا نښه گڼل شوې ده. مغولانو په تاریخ کې د نړۍ سترې سیمې فتح کړې، د هغوی پوځونه ډېر ځواکمن وو او په نړۍ یې ډېر اغېز درلود. د دوی ځواک او جگړهجوړونه د هغوی د غرور یوه مهمه برخه وه.

غرور د مغول د مغولي واکمنۍ د تاریخ یادونه کوي، چې تر ټولو څرگند مثال یې د چنگېز خان او د هغه د اولادونو جنگونه او فتوحات دي. چنگېز خان د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د مغولانو پرمختگونه د دوی د غرور او ځواک ښکارندویي کوي.

د مغول امپراتورۍ پراختیا: د دوی ځواک دومره و چې د نړۍ ډېرې سترې برخې یې لاندې کړې (له منځنۍ آسیا څخه تر اروپا او چین پورې). (۵: ۱۸۲مخ)

په دې بیت کې تلمیح د مغولانو ښکلا او غرور ته شوې ده، چې د هغوی تاریخي ځواک، ښکلا، او جنگي ځواک ښکارندویي کوي. د دې په مقابل کې د پښتنو وقار د یار د اخلاقي لوړتیا استازیتوب کو؛ نو د مغولانو غرور دلته د ښکلا او ځواک یو ترکیب دی چې د یار شخصیت ته تشبیه شوی دی.

یا شي سرمایه د حسن ډېره چې بخیـــــــل وي
کوم ښکلی چې شوم نه وي قارون نه شې کېدی

په دې بیت کې د قارون یادونه د تلمیح په توگه شوې ده، قارون د قرآن کریم او نورو دیني روایتونو له مخې د بېحسابې مالدارۍ لپاره مشهور دی، خو د هغه غرور، بخیلیتوب او نافرمانۍ د هغه د تباهۍ سبب شول. دلته شاعر بخیلي او ځانغوښتنه د هغه د تباهۍ سره پرتله کوي.

قارون د بني اسراییلو یو شتمن و، چې د حضرت موسی علیه السلام په وخت کې ژوند کاوه. نوموړی د خپلې بېحسابې شتمنۍ لپاره ډېر مشهور و، روایتونه وایي چې د هغه خزانه دومره زیاته وه چې د هغه د خزانو د کیلۍ وړلو لپاره څو تنه قوي سړي ټاکل شوي وو.

قارون د خپلې شتمنۍ له امله مغرور و او د خدایۍ دعوه یې وکړه، هغه ویل چې د خپلې پوهې او هڅې په واسطه شتمن شوی دی. هغه د خپلې ټولنې د غریبو خلکو مرسته ونه کړه، د روایتونو له مخې، الله تعالی د هغه د غرور او بخیلتوب په سبب هغه او د هغه ټولې شتمنۍ د ځمکې لاندې کړې.( ۴:۳۳۴مخ)

په دې بیت کې تلمیح د قارون کیسې ته شوې ده، چې د شتمنۍ او غرور له امله تباه شو. شاعر بخیلي د انسان لپاره یو بد صفت گڼي او ښکلا یوازې هغه وخت ارزښت لري چې له سخاوت او ښه اخلاقو سره مل وي. که ښکلا د بخیلیتوب سره مل وي، نو د قارون په څېر بېگټې وي.

په لاس به د هـــــــــمت د نفس اژدر کړي دوه ټوټې
حمزه قوت له عشقه د حیدر(رض) موندلی دی (۱: ۵۸۹ مخ)

په دې بیت کې تلمیح حضرت علي (رض) ته شوې ده، چې د هغه د لقب (حیدر) په کارولو سره یاد شوی. حضرت علي (رض) د اسلام په تاریخ کې د زړورتیا، مېړانې، او د حق د ملاتړ لپاره مشهور دی.

حیدر د حضرت علي (رض) لقب دی، چې معنی یې (زمری) دی، دا لقب د هغه د زړورتیا، قوت، او په جگړو کې د مېړانې لپاره ورکړل شوی دی. حضرت علي (رض) د رسول الله ﷺ د ترهزوی و. هغه د فاطمه الزهرا (رض) خاوند و او د اسلامي خلافت څلورم خلیفه گڼل کېږي.

د هغه مېړانه په جگړو کې بېمثاله وه په ځانگړي ډول د (خیبر د جنگ) په اړه روایتونه ښیي چې هغه څنگه د مسلمانانو لپاره فتحه راوسته.

دا جگړه د مدینې د یهودانو خلاف وه، چې په خیبر کې یې کلک مرکزونه جوړ کړي وو. د خیبر قلعه د یهودانو تر ټولو قوي پوځي مرکز و. په دې جگړه کې د مسلمانانو لښکر څو ورځې د خیبر د قلعې په نیولو کې پاتې راغلل، وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل چې سبا ورځ به د جنډې سپارونکی هغه کس وي چې الله تعالی او د هغه رسول یې خوښوي، سبا سهار جنډه حضرت علي (رض) ته وسپارل شوه. حضرت علي (رض) په خپله مېړانه او زړورتیا سره د خیبر دروازه په زور خلاصه کړه، چې ویل کېږي دغه دروازه ډېره درنه وه او دا کار د هغه د فوق العاده زړورتیا نښه ده. (۵: ۲۰۹مخ)

په دې بیت کې تلمیح د حضرت علي (رض) "حیدر" لقب او د هغه د مېړانې او زړورتیا ځانگړتیاوو ته شوې دی. حمزه بابا د خیبر د فتحې تاریخي پېښې ته اشاره کوي، چې په اسلامي تاریخ کې د زړورتیا یو ځانگړی مثال دی. د دې بیت له لارې، حمزه بابا دا څرگندوي چې مېړانه، عشق او همت د نفس غوښتنې او شیطاني خنډونو له منځه وړلو لپاره اړین دي، لکه څنگه چې حضرت علي (رض) دا نړۍ ته وښودله.

ای زما د زړه د مصـــــــــر سلـیمــــانه
بې د تا مې ژوندون په مېړتون دی (۱: ۵۷۵ مخ)

دا پېښه د حضرت سلیمان (ع) په اړه په قرآن کریم کې په سورة النمل (مېږیان) کې ذکر شوې ده، چې د هغه د واک، حکمت، او ځانگړي اقتدار یوه ښکاره بېلگه وړاندې کوي.

حضرت سلیمان (ع) ته الله تعالی ځانگړي نعمتونه ورکړي وو، لکه د جناتو، انسانانو، حیواناتو او حتی د باد پر ځواک واک لرل. یوه ورځ حضرت سلیمان (ع) له خپل پوځ سره د یو ځای څخه تېرېده، چې د مېږیانو یوې ډلې خپل قوم ته غږ وکړ.

ای مېږیانو! خپلو کورونو ته ننوزئ چې حضرت سلیمان او د هغه لښکر مو په بېخبرۍ کې ونه مروړي. حضرت سلیمان (ع) د دې مېږي خبرې واورېدې او په دې یې موسکا وکړه، هغه د الله شکر اداء کړ چې ورته یې داسې نعمتونه او پوهه ورکړې ده.

مېږي د خپل قوم مشر وو او هغوی ته یې خبرداری ورکړ چې د حضرت سلیمان (ع) او د هغه د لښکر له لارې ځان وساتي. حضرت سلیمان (ع) د مېږیانو خبرې د الله په ورکړې نعمت د شکر په توگه واورېدې او په عاجزۍ سره یې موسکا وکړه، چې د هغه تواضع او حکمت ښیي. (۴: ۴۴۲ مخ)

دا واقعه ښیي چې حضرت سلیمان (ع) نه یوازې په حیواناتو پوهېده، بلکې د هغوی خیال یې هم ساته. په یاد شوي شعر کې د حضرت سلیمان (ع) او مېږیانو یادونه د محبوب عظمت او د خپل ژوند د بېارزښته حالت د بیان لپاره شوې ده. لکه څنگه چې حضرت سلیمان (ع) د مېږیانو ژوند ته اهمیت ورکړ، شاعر خپل محبوب د هغه عظمت سمبول بولي، او د خپل ژوند حالت د مېږتون د کمزورۍ او بېارزښتۍ سره پرتله کوي.

چې تل ودان وي جهـــــــان، نه غــم وي
ځکه خو صور د اسرافیل ښه دی (۱: ۵۷۹ مخ)

د قیامت په اړه د اسلامي عقیدې یوه مهمه برخه دا ده چې د نړۍ د پای او بیا د مخلوقاتو د بیا ژوندۍ کېدو لپاره به حضرت اسرافیل (ع) د صور په نامه یو ډول شپېلۍ پوکوي. دا واقعه په قرآن کریم او نبوي حدیثو کې په تفصیل سره ذکر شوې ده.

شاعر غواړي هغه نړۍ بیان کړي چې په هغې کې به هیڅ غم، درد یا مړینه نه وي. دا اشاره د قیامت له دویم پوک وروسته د جنت نړۍ ته ده، چې هلته به یوازې خوشحالي او ارام وي.

دلته شاعر وایي چې د اسرافیل (ع) صور به د ټولو غمونو او دردونو پای ته رسېدل تضمین کړي. حمزه بابا په دې باور دی چې د دې نړۍ د ستونزو او غمونو د ختمېدو لپاره د قیامت پېښېدل اړین دي، ځکه له هغې وروسته به یوه نوې نړۍ د ابدي خوښۍ لپاره جوړه شي. د دې واقعې یوه مهمه برخه دا ده چې له دې وروسته به د غم او درد پای وي، او د انسانانو لپاره به تلپاتې خوښي (جنت) یا سزا (دوزخ) وي.

گوتې مه راوړه زمـــــــا د زړه نگین ته
دېو صفته امانت د سلیمان دی(۱: ۵۷۴مخ)

په دې بیت کې د "امانت د سلیمان" یادونه د تلمیح صنعت یوه ښکاره بېلگه ده، چې د حضرت سلیمان (ع) هغه پېژندل شوې کیسې ته اشاره کوي چې په کې هغه ته ځانگړی ځواک، حکمت، او د الله له لوري امانت ورکړل شوی و.

د حضرت سلیمان (ع) په اړه په قرآن او اسلامي روایتونو کې ډېرې کیسې شته چې د هغه د ځواک او الهي امانت اهمیت څرگندوي. یوه له مهمو پېښو څخه یې د هغه ځانگړي نگین (مهر) یا خاتم (حلقه) کیسه ده، چې د هغه د واک او عظمت نښه وه. حضرت سلیمان (ع) ته د الله تعالی له لوري ځانگړی نگین ورکړل شوی و، چې د واک او ځواک سمبول و. په روایتونو کې ویل شوي چې د دې نگین په وسیله هغه د جناتو، حیواناتو او حتی د باد پر ځواک واک درلود.

په ځینو روایتونو کې ویل کېږي چې شیطان د هغه نگین د یو وخت لپاره په چل ول ترلاسه کړ، او د حضرت سلیمان (ع) واک یې له هغه واخیست.

کله چې حضرت سلیمان (ع) نگین بېرته ترلاسه کړ، هغه خپل واک او ځواک بیا ترلاسه کړ، او د دې پېښې له لارې د الله تعالی د امانت ساتنې ارزښت څرگند شو.

شاعر خپل زړه د سلیمان د ځانگړي نگین سره پرتله کوي، چې یو ځانگړی او مقدس امانت دی. هغه وایي چې د زړه امانت دومره ارزښتناک دی چې لاس وروړل ورته بېاحترامي ده.

دلته "دېو صفته" د جناتو او نورو موجوداتو په وړاندې د حضرت سلیمان (ع) د واک سمبول دی. شاعر د زړه امانت د هغه ځانگړي امانت سره پرتله کوي چې د حضرت سلیمان (ع) سره و.

په دې بیت کې شاعر د حضرت سلیمان (ع) د امانت کیسې څخه الهام اخلي ترڅو د زړه ځانگړتیا او ارزښت بیان کړي. هغه غواړي ووایي چې د زړه امانت دومره سپېڅلی دی لکه څنگه چې د سلیمان (ع) نگین یو ځانگړی الهي امانت و.

### پایله

حمزه بابا د پښتو ادب هغه ستر شاعر دی چې د خپلې شاعرۍ له لارې یې د ادب، فکر او عرفان یو ځانگړی مکتب رامنځته کړی. د دې څېړنې پایلې وښوده چې حمزه بابا د تلمیحاتو په کارولو کې ځانگړې وړتیا درلوده او دا تلمیحات یې د خپلې شاعرۍ د فکري او هنري ژورتیا لپاره کارولي دي.

د حمزه بابا شاعرۍ کې تلمیحات د اسلامي، عرفاني، تاریخي او فولکلوري سرچینو څخه اخیستل شوي، چې د هغه د تخلیقي ځواک څرگندونه کوي. نوموړي د قرآن، حدیث، صوفیانه او ادبي تلمیحاتو له لارې خپل فکر بډایه کړی او د خپلو شاعرانه مفاهیمو د روښانولو لپاره یې په ډېر مهارت کارولي دي.

دا هم څرگنده شوه چې حمزه بابا د تلمیحاتو په کارولو کې یوازینۍ موخه د شاعرانه ښکلا رامنځته کول نه وو، بلکې هغه یې د معنوي، اخلاقي او فلسفي پیغامونو د رسولو لپاره هم کارولي دي. د حمزه بابا تلمیحات نه یوازې د لوستونکو ادبي ذوق پیاوړی کوي، بلکې هغوی ته د معنوي تگلارې څرک هم ورښي.

په پای کې ویلای شو چې د حمزه بابا تلمیحات د هغه د شاعرۍ یو مهم او ارزښتناک عنصر دی. دا تلمیحات د پښتو ادب د معنوي او فکري بډاینې سبب شوي او د حمزه بابا شاعري یې له عامو شاعرانو څخه جلا او ځانگړې کړې ده. د هغه تلمیحي هنر د پښتو ادب یوه تلپاتې خزانه گڼل کېدای شي، چې لا هم ژورې څېړنې ته اړتیا لري.

### وړاندیزونه

د حمزه بابا د تلمیحاتو د لا ښه درک لپاره باید د هغوی تاریخي، مذهبي، او عرفاني پسمنظر ته پاملرنه وشي، دا موضوع لا ډېرو څېړنو ته اړتیا لري، نو راتلونکي څېړونکي باید د حمزه بابا د شاعرۍ تلمیحات د نورو شاعرانو له تلمیحاتو سره پرتله کړي، د تلمیحاتو ادبي ارزښت ته په پام سره باید د پښتو ادب محصلین او لوستونکي د حمزه بابا شاعري د تلمیحي هنر له نظره ژوره مطالعه کړي.

### مأخذونه


۱.شینواری، حمزه. د حمزه شینواري دیوان، یونیورسټي بک ایجنسي: پېښور، ۱۳۸۹ل.
۲. شېرزاد، پښتون آغا. ادبي هڅې، نویسا خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۵ل.
۳. څپاند، عبدالجبار. حمزه نړۍ لید. لکچرنوټ. ناچاپ.
۴. عارف خټک، امانت خان. قصص الانبیاء، زېب ارټ پبلشرز: پېښور، ۲۰۰۴م.
۵.حقیار، ابوالمختار محمد عبدالروف. افضل الحکایات، مکتبه قاسمیه: کوټه، ۲۰۰٦م.
٦. نادان، عبدالقدیر. لیلی مجنون، خوږه پښتو ادبي ټولنه: نوښار، ۲۰۲۰م.
۷. شمیسا، سیروس. بیان. فردوس خپرندویه ټولنه: تهران، ۱۳۷۰ل.

# زېرى

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

علمي- څېړنیزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جریده

د ۱۴۰۴ ل.کال، د غويي میاشتې ۳- ۴مه گڼه | پرله پسې ۴۴۳- ۴۴۴ مه گڼه



**مسئول مدیر:** څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورین

**مهتمم:** څېړندوی پښتون پښتون

**کتنپلاوی:** اکاډمیسین څېړنپوه دوکتور سید محي الدین هاشمي، څېړنوال رحیم الله حریفال، څېړندوی احسان الحق کبیر، څېړندوی مطیع الله ساحل

د افغانستان د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارگان

**برېښنالیک:** zerai1316@asa.gov.af >< zerai1316@gmail.com

**د اړیکې شمېرې:** (۹۳+)(۰) ۷۸۰۸۳۱۹٦۰

(۹۳+)(۰)۲۰۲۲۰۱۲۷۹

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، توره باس خان خلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د یوې گڼې بیه:** پنځه افغانی



● په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی په لیکوالو پورې اړه لري.


## پر حال د ماضي مداخله

پوهندوی دوکتور سید اصغر هاشمي

انسان په حال کې ژوند کوي، خو د ماضي تر اغېزو لاندې خوښي او خپگانونه تېروي. هېڅ انسان په حال کې مستقله آزادي نه لري، هره کړنه په یو ډول له ماضي سره تړاو لري؛ نو ځکه وایو چې انسان یو مستقل او آزاد موجود نه دی؛ انسان که هر څومره خپلواک وي، بیا هم خپلواک کېدلای نه شي او په یو ډول د ماضي له رسوب شوو پېښو سره مخامخ وي.

حال په ماضي کې تداخل لري او ماضي په حال کې شته، هر انسان چې په حال کې ژوند کوي او عمل تر سره کوي، سرچینه یې له ماضي څخه وي. په حقیقت کې هر هغه کړنه او پېښه چې په حال کې تر سره کېږي، جرړه یې په ماضي کې وي، نو ځکه په حال کې واقع کېږي.

د زمان تداوم او په زمان کې زمان همدې ته وایي چې په حال کې د ماضي اغېزې وي او په راتلونکي کې د حال او ماضي اغېزې ولیدل شي. هره بده او ښه پېښه هغه معلوله پدېده ده چې د علتونو په وسیله تر سره کېږي، خو د دغو علتونو بنسټ په زرگونو کلونو مخکې په انسانانو کې وي، دغه علتونه په چاپېریال کې وي، له همدې لامله په حال کې هره ښه او بده پېښه د انسانانو په ماضي کې وي او د ټولنې په لاشعور او ټولنیز لاشعور کې موجود وي، نو ځکه له هر ډول انساني او ټولنیزو ستونزو سره مخامخ یو او نن یې تجربه کوي.

په حال کې د ماضي مداخله شته او حال د ماضي تر اغېزو لاندې دی، لکه څنگه چې یو ماشوم د مور او پلار د ژینیتیکي اغېزو لاندې وي. کله چې د ماشوم کړنې تر بحث لاندې نیسو، نو ماضي یې کورنۍ ده، د ماضي له مطالعې او څېړنې پرته پر ماشوم بحث او خبرې کول به سمې او ښې پایلې و نه لري.

د ماشوم ماضي یې کورنۍ ده او دی هغه انساني موجود دی چې په حال کې وخت تېروي، خو هره ښه او بده کړنه یې له ماضي سره تړاو لري او له ماضي څخه سرچینه اخلي.

په حال کې د ماضي لاسوهنه داسې ده، لکه یو څوک چې د بل چا په کارونو کې لاسوهنه کوي. کله چې یو انسان ښه کوي، بد هم پرې تپل کېږي او دی یې په غیر ارادي ډول تر سره کوي. انسان غواړي چې خوښ ژوند وکړي، خو له دې څخه د خوښۍ واک سلب شوی وي او په اختیار کې بې اختیاره وي.

انسان په دې نه پوهېږي چې د واک سلبېدل یې له کوم ځای څخه تر سره کېږي، ولې یو انسان غواړي چې خوشحاله ژوند وکړي، خو دی یې نه شي تر لاسه کولای؟ ولې یو انسان له ماضي څخه خلاصون پیدا کولای نه شي؟ دا او دې ته ورته نورې هغه پوښتنې دي چې حال یې د ماضي تر اغېزو لاندې کړی دی او انسان نه شي کولای چې مستقلانه کردار تر سره کړي.

حال د ماضي له مداخلې څخه مجبوره دی، کله چې په حال کې یو انسان هر څومره مختار وي او د اختیار خاوند وي، بیا هم ماضي دغه مختیار انسان بې اختیاره کوي. په اختیار کې بې اختیاري همدې ته وایي چې د انسان په ژوند کې یو داسې پټ او مبهم حالات وي چې په سترگو نه ښکاري، خو انسان ته یې زیان رسېږي. په انسان کې دغه پټه معما او اژدها یې ماضي ده.

دا څرگنده خبره ده چې په انسان باندې تېر خپلې اغېزې لري، خو دا مانا نه لري چې انسان ته به هر وخت زیان رسوي. څنکه چې ماضي انسان ته زیان رسولای شي، گټه هم رسوي. له تېر سره اړیکه نیول د ماضي د موجودیت برکت دی. حال هغه وخت وجود پیدا کوي چې ماضي وي، ماضي حال ته شناخت ورکوي. په حال کې هر ډول پرمختگ له ماضي څخه را پاتې موضوعات دي، لکه څنگه چې ماضي بدې پایلې وړاندې کولای شي، په همدې ډول ښې پایلې هم درلودای شي. هره پدیده ښې او بدې خواوې درلودای شي چې ماضي هم دوه خواوې لري، مثبته خوا یې حال ته گټه رسوي او منفي خوا یې حال ته زیان رسوي. کله کله داسې هم کېږي چې د ماضي منفي او ناسم حالت د حال تجربه شي او په حال کې د ستونزو پر ځای گټه رسوي.

زموږ په داخل کې یو داسې څوک شته چې زموږ په بهرنۍ نړۍ او جسمي کارونو کې مداخله کوي. په حال کې د خپگان او ستونزو پیدابښت له یو بل ځای څخه پیدا کېږي، د هرې بدې پېښې لټول په ماضي کې تر سره کېږي او د هرې بدې واقعې شالید په ماضي کې وي.

د حال ستونزې په ماضي بدلېږي او په راتلونکي کې د حال زمانه چې په ماضي باندې اوښتې دي، ستونزې جوړوي، نو ځکه انسان ته ښایي چې په حال کې ښه ژوند وکړي او له ماضي څخه رخصت واخلي. د ماضي ستونزې په حال کې پیدا کېږي او همدغه حال په تېر بدلېږي. که چېرې یو انسان په حال کې ستونزې و نه لري او په حال کې ځان، ټولنې او نړۍ ته ستونزې جوړې نه کړي، نو هېڅکله به له بدې ماضي سره مخامخ نه شي. که نن ماضي ستونزې جوړوي، دغه ستونزې انسان په یو داسې وخت کې درلودې چې هغه د حال زمانه وه، هماغه حال یو وخت په ماضي بدلېږي او انسان ته زیان رسوي.

له ماضي څخه رخصت اخیستل په حال کې د ښه ژوند کولو په مانا دی، په حال کې ښه وخت تېرول له ماضي سره مقابله کول دي. موږ خپله ځان ته د ماضي دوزخ جوړوو، همدغه دوزخ په حال کې تجربه کوو او د وخت په تېرېدلو سره همدغه حال په ماضي اوړي چې په منظم ډول د زمان د تېرېدلو ستونزې له حال څخه پیلېږي او په راتلونکي باندې پای ته رسېږي. که په ماضي کې هر ډول ستونزې وي، پیل یې له حال څخه کېږي، که په راتلونکي کې ستونزې پیدا کېږي، هغه هم له حال څخه په میراث کې پاتې وي، نو ځکه ویلای شو چې حال، ماضي او راتلونکی یو په بل کې تداخل لري او یو له بل څخه پیدا شوي دي.

انسان باید د هېرولو هنر زده کړي، د بدو هېرول، د ښو یادول او په حال کې هر مثبت فکر او د اسلامیت او انسانیت پر بنسټ عمل تر سره کول د ښه حال، ماضي او راتلونکي ضمانت کوي. موږ په حال کې د ځان او جهان دوزخ یو، موږ ته دغه دوزخ ماضي جوړوي او ماضي ته دغه ستونزې حال په میراث کې پرېږدي. انساني هره ستونزه په حال کې واقع کېږي، په ماضي کې ذخیره کېږي او ماضي د یو ژوندي موجود په ډول خپله بدله اخلي.

زموږ تېر نسل په حال کې ستونزې درلودې، دغه ستونزې ماضي ته انتقال شوې او نن یې موږ تجربه کوو او په موږ تپل کېږي. هر انساني بد عمل په یو نه یو ډول د نړۍ هر انسان ته زیان رسوي. په شرق کې انساني ستونزې په غرب باندې اغېزې لري او په شمال کې یوه څېړنه او علمي پرمختگ پر جنوب باندې اغېزې لري. نن چې موږ څومره بدې ستونزې تجربه کوو، زموږ له نسلونو څخه موږ ته را پاتې دي.

موږ په حال او ماضي کې بندیان یو، په حال کې د ځان دوزخ یو او دغه دوزخ په ماضي کې موجود وي. که زموږ تېر نسل ناسمې کړنې نه تر سره کولای، نو نن به دغه کړنې موږ نه تجربه کولای. په جمعي لاشعور کې هره بده کړنه چې په ټولنې کې میراثي وي، دغه میراث له انسانانو څخه را پاتې وي. ټولنه هغه وخت له انسان سره بد کوي چې انسانانو یې په داخل کې بد تر سره کړي وي او بد یې ورته په میراث کې پرېښې وي.

ټولنه بې فکره او بې تمیزه موجودیت لري، ټولنې ته عقل او پوهه د انسانانو په وسیله انتقالېږي او ناپوهي ورته له انسانانو څخه را پاتې کېږي. ستونزه په ټولنې کې نشته، د ټولنې انسانان بد کوي او په سلگونو کلونو وروسته د چاپېریال په داخل کې دغه بد اعمال ځای نیسي او په کلونو وروسته یې خلک تجربه کوي.

په چاپېریال کې دوزخ دی، نو ځکه (زه دوزخ دی!)، په تېرو انسانانو کې دوزخ و، ځکه نن په موږ کې دوزخ دی. په ماضي کې دوزخ و، ځکه نن په حال کې دوزخ دی، په حال کې دوزخ و، ځکه په ماضي کې دوزخ جوړ شو او نن یې د دوزخ دغه اور د نړۍ هر انسان تجربه کوي او په ځانگړي ډول یې (زه) تجربه کوي.

**پای**

---

قیصر اپریدي

## لومړنی اغېز

دا یوه قدرتي خبره ده چې یو شاعر که د خپل اولني کتاب نه پس ډېره شاعري وکړي، ډېره ښه او د لوړ معیار سخن سازي وکړي، خو د لومړني اغېر (فرسټامپریشن) لومړني تأثر مصداق د هغه اولنۍ شاعري او اولني کتاب د خلکو په حافظې یو داسې چاپ پرېښی وي، د هغوي ذهن یې په داسې انداز په خپله ولقه کې اخیستی وي چې څوک هم د شاعر د شعر حواله ورکوي؛ اولني اشعار او اولنی کتاب یې حواله جوړېږي.

حمزه صاحب د غزونې نه وروسته په مقداري او معیاري لحاظ بشپړه شعرسازي کړې ده خو کله چې د حمزه صاحب د شعر حواله ورکول کېږي نو زیاتره حوالې د غزونې نه مأخوذ وي. همدغه شان د قلندر مومند شاعري د سباوون نه وروستو هم عام منظر عام ته راغلې ده خو د خلکوپه یاداشتونو کې سباوون دومرهځای نیولی دی چې د نورې شاعرۍ د اهمیت مخه یې ډب کړې ده.

دلته د سیف الرحمان سلیم په اته ویشتو غزلونو مشتمل کتاب که څه هم زمونږ د موضوعي صورتحال سره پوره پوره مطابقت هم نه لري ځکه چې زما تر خیاله ( که تېروتی نه وم) نو د اولني کتاب نه وروستو د سلیم صاحب کوم نور شعري اثار مخې ته نه دي راغلي خو تر دومره حده د یادولو استحقاق لري چې سلیم صاحب تر دې وخته خپلو دغو اته ویشتو غزلو یاد او زمونږ په ذهنونو کې اباد ساتلی دی.

زه گڼم، که د زېربحث موضوع په ضمن کې د نورو حوالو راوړلو ضرورت وي نو زمونږ معروضي میدان مونږ ته د ځینو نورو حوالو داډ هم راکوي، خو زه چې په دې معاملـه خپله کومه تبصره ثبت غواړم؛ څرگنده خبره ده دا تبصره به زما د خپل ځان او خپل شعر په باره کې زما د ذاتي تجربو او بصیرت ثمره وي او که د دغو تجربو څخه زهخپلو لوستونکو ته یو وړوکی شان سپېکی رسول وغواړم نو هغه به دا وي چې د لوستونکو ددې ذهني علاقې له کبله په چپه خوله مگر د شاعر یا ادیب حوصله شکني کېږي. ظاهره ده دا احساس به زما ذاتي احساس وي خو د قلمکارۍ په شریک منصبي مېدان کې د نورو قلمکارانو احساسات دې له ما او زما احساسات دې له هغوي مختلف ولې وي؟ خو څنگه چې بره اشاره وشوه چې شاعر او ادیب د حوصله شکنۍ دا بوج په زړه پټ تېروي نو لړ ترلړه دغه پټ بوج تر هرچا اول زه د خپل زړه نه غورځول غواړم، په دې خیال چې دغسې به د شاعرانو او ادیبانو دغه مشترکه مگر خفي مسله داړ ومومي او د اظهار مختلف صورتونه به یې مخې ته راشي.

زهوایم که د لوستونکي د انتخاب او انتساب دا قیصه د مناسبې پلټنې نه بغېر د لوستونکي د حقِ انتخاب په حواله یوه جایزه قضیه ومنلی شي نو سوال به دا وي چې د لیکوال د حوصله افزایۍ او حوصله شکنۍ نه قطعِ نظر د لوستونکي دا انتخاب بلکې یوه شریکه نفسیاتي علاقه حقیقت ته ورته او مشابه څومره دی؟

په دې قضیه کې ماته د لوستونکي د قضاوت یوه دا خامي په نظر راځي چې مونږ د یو شاعر یا ادیب د شعري یا ادبي سفر ارتقایي مطالعه نه کوو. د یو شاعر او ادیب د ارتقایي سفر دا مطالعه ځکه هم ضروري ده چې ددې په نتیجه کې مونږ ته یوازې دا حقیقت په لاس نه راځي چې د لیکوال لیک څومره ارتقاء کړې ده؟ بلکې بعضې داسې لیکوالان به هم وي چې د هغوي شعری یا نثري أثارو به حقیقتًا کومه ارتقایي خوشبو نه وي محسوسه کړې؛مطلب دا چې مونږ به د موضوع د دوه اړخیز قضاوت یو رښتونی اهلیت ترلاسه کړو. بیا نو که د یو شاعر یا ادیب داډگېرنه کېده هغه به جایزه داډگېرنه وی او که د انتقاد د ضد لاندې راتلو نو دغه انتقاد به هم یو اړخیز او ناجایز نه وي.

في الحال مونږ گورو چې زمونږ عامه رویه د موضوع په یو اړخ د زور اچولو مصداق ده او زمونږ دې رویې د یوې عمومي مگر بېځایه کلیې شکل موندلی دی نو ددې په نتیجه کې د زیاتره لیک او تخلیق حوصله شکنې خو کېږي خو د حوصله افزایۍ مجاز لیکونو او کتابونو ته حوصله نه ورکول کېږي.

خبره مې د خپل ځان او خپل احساس نه رانیولې ده نو وبه وایم چې تر دې دمه زما شپږ شعري او اته نثري ټولگې چاپ دي خو کوم ملگری چې ماته زما په شعری کاوش داډ راکوي هغوي زیاتره زما په اولني کتاب ( د مات کودي رېحان) باندې ماته داډ راکوي. همدغه شان د نثر په کتابونو کې زما د اولني اثر لیک او تخلیق حواله راکوي. سوال دا دی چې ددې نه پس ما کوم شعر او نثر لیکلی دی یا تر ما وړاندې حمزه او قلندر یا نورو کوم اثار لیکلي دي ایا په هغې کې د هغوي د خود شعوریت هیڅ څرک شامل نه دی؟ په نورو الفاظو دغه وروستني اثار بېخي د مجهول کېفیت د لاندې لیکل شوي دي؟ زه وایم چې خبره ټوله ټاله دغسې هم نه ده.یو شاعر یا ادیب د خپل لیک په حواله دومره شعور خامخا لري چې هغه د خپلو سابقه اثارو په مقابله کې په نوو اثارو کې د معیار د ارتقاء په لاره روان دی؟ که په ځای ولاړ دی؟ یا شاته تلی دی؟ نو یو شاعر که په خپلو نورو نوو اشعارو کې د ارتقاء کېفیت او د روزمره په بنیاد د بدلېدونکو حالاتو او واقعاتو سره مطابقت محسوس نه کړي؛ نو هغه به مزید په دوو کرښو تورولو ځان ستړی نه کړي. لږ تر لږه د خپل وجود د بې ځایه او بې نتیجې ستومانۍ احساس به یې نور کار ته پرېښږدي.

خو په دې صورتحال کې لا زیات د کشمکش او پیچیدگۍ کېفیت هغه وخت ځان له جواز پیدا کړي کله چې له ادبي رایي عامه څخه بعضې نور اهلِ رایې او اهلِ نظر شاعر ته د هغه په نوو اثارو شاباسی ورکوی او ادعا کوي چې د متعلقه شاعر شعري سفر د معیار په لحاظ په ارتقایي قدم روان دی یا لږترلږه له خپل معیاره لوېدلینه دی. په داسې پېچیده یا متضاد حالاتو کې لیکوال سره د سوچ او عمل کومه لاره پاتې کېږي؟ شاید همدغه چې لیکوال ته د خپل سوچ او خپل اټکل تله په لاس د خپل هنر او اثر په لاره د خپل مجوزه معیار سره مزل ترسره کول پکار دي، نه چې د نقادانو صاحبانو د متضادو او پیچیده رایو په اساس دومره د تذبذب ښکار شي چې خپل را روان هر دېوان په گوډې ومنډي.

تنقید ښه شی دی، خو تر دې زیات تنقیدي اهلیت ښه شی دیاو د تنقیدي اهلیت له پاره په تنقید نگار کې دا شعور باید شتون ولري چې هغه په کومه فنپاره یا شعر یا کتاب رایېورکوي په هغې پورې پېوست ټول ضروري صورتحال یې مطالعه کړی دی؟ ظاهره ده په ضروري صورتحال کې له الف څخه تر یا پورې ټول ارتقایي تسلسل احاطه کول د اولنی او لازمي پړاو حیثیت لري.او په دې تسلسل کې د نقاد سوچ باید د یوې لحظې لپاره هم د ذاتي ذوق او شخصي تعصباتو ښکار نه شي؛ځکه ذاتي ذوق او شخصي تعصب زمونږ نظر د انتقاد د پراخو فضاگانو څخه خپلې خېټې ته راغونډوي. همدغه شان لومړنی تأثر (فرسټ امپرېشن) هم په خپل ځان د یو فرېب په رنگ مسلط کول پکار نه دي.

**پای**

---


ZERAI

Afghanistan Science Academy (ASA)

**Editor - In - Chief:**
Associate Professor
Dr. Muhammad Ishaq Khawreen

**Assistant:**
Assistant Prof.Pashtoon Pashtoon

**Compose and Design:**
Dr. Khawreen



**Address:** Center for Languages and Literature, Institute of Pashto Language and Literature (ASA) Shahr - e - Now Kabul, Afghanistan
**Contact:** (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
**Email:**zerai1316@asa.gov.af >< zerai1316@gmail.com